**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## الازهر زموږ پوځونه د فلسطين په ازادۍ کې له خپل رول او هغه موجود له منځه وړلو لرې کوي چې زموږ مقدسات يې ناولي کړي

(ژباړه)

د ۲۰۲۳م کال، د جون په ۲۴مه «اليوم السابع» مصرۍ ورځپاڼې خبر ورکړ چې الازهر د صهيونيستي ترهګرې ادارې له لوري د فلسطين د نابلس ښار په سوېل کې د قرآن کريم د نسخو له څيرولو او سوځولو او همدا راز د فلسطين د لوېديځې غاړې د څو کليو پر بې ګناه وګړو له بريدونو او د دوی د شتمنيو لوټلو سره سخت مخالفت وښود. د دغې وحشي ادارې لخوا دا ډول جنايتونه کول د حيرانتيا خبره نه ده. الازهر وويل چې دغې ادارې خلک، د دوی هېوادونه او ځمکې غصب کړې؛ د نړيوالې ټولنې پر وړاندې خپلو جنايتونو ته دوام ورکوي او نړۍ يې په مخنيوي کې ناتوانه ده. د دوی جنايتونه بايد افشا او مخه يې ونيول شي. پر دغو جنايتونو سترګې پټول له دوی سره يو ډول لاس لرل دي؛ دا کار د توجيه وړ نه دی؛ دا د بشر پر وړاندې جنايت او د ټولو هغو نړيوالو قوانينو او تړونونو نقص دی چې ديني مقدساتو ته درناوی او د عبادت ازادي تضمينوي. الازهر ټينګار وکړ چې اوس د دغې ترهګرې ډلې پر وړاندې د يوه جدي عربي او اسلامي دريځ خپلولو وخت دی چې زموږ د فلسطيني وروڼو پر وړاندې يې ډېر ظلمونه کړي او لا يې کوي. الازهر زياته کړې چې د دغې ترهګرې ډلې پر وړاندې مقابلې لپاره د خپلواک فلسطين – چې قدس شريف يې پلازمېنه وي- د تشکيل لپاره  چټکو او اجباري تدابيرو ته اړتيا ده.

د الازهر دريځ هماغه پخوانی او د مصري رژيم دريځ و؛ دا چې نړيواله ټولنه د يهودي دولت ملاتړې ده، پر وړاندې يې اقدام او  د اسلامي مقدساتو دفاع نه کوي. سربېره پر دې، الازهر د فلسطين – چې پلازمېنه يې قدس وي- هېواد رامنځته کولو لپاره د جدي عربي او اسلامي دريځ غوښتونکی شو؛ يعنې د دوو هېوادونو حللارې په چوکاټ کې چې دا پخپله د امريکا له لوري وړانديز شوې او مصري رژيم له لوري تصويب شوې حللاره ده. دغه حللاره پر کوچنيو هېوادونو د امت وېش ته رابلل دي؛ پرته له دې چې د فلسطين د مسلې اساسي او ريښتينې حللارې ته اشاره وشي او د اسلامي مقدساتو پر وړاندې هر راز سرغړونې او يا يې د حرمت تر پښو لاندې کولو ته قاطع ځواب وويل شي.

د فلسطين خاوره خراجي ده چې په ټول امت پورې اړه لري؛ هېڅوک يې بايد چاته تسليم يا پرې نه ږدي. د فلسطين مسله يوازې د فلسطين د خلکو نه، بلکې د ټول امت مسله ده او ازادول يې د ټول امت، په ځانګړې توګه ګاونډيو هيوادونو مسوليت دی. د يهودانو لخوا د قران کريم څيرولو او سوځولو او همدا راز د فلسطين د

لوېديځې غاړې د څو کليو پر بې ګناه وګړو د برېدونو او د دوی د شتمنيو د لوټلو په غبرګون کې بايد د ټول امت په کچه اقدام وشي؛ بايد د فلسطين د ازادولو او يهودي دولت له منځه وړلو لپاره پوځونه بسيج کړل شي. د فلسطين په مسله کې د غرب په خوښه مخته تلل له الله، پيغمبر او د فلسطين له هيلو سره خيانت دی.

**اې د امت او په ځانګړې توګه په مصر او الازهر کې علماوو او شيوخو:** ستاسو مسوليت هغه څه ته د امت رابلل دي چې پرې واجب دي؛ هغه دا چې مسلمانان د دوی ترمنځ بېلوونکې پولې له منځه يوسي او هغه نظامونه له بېخه وباسي چې پر دوی د اسلام پر بنسټ حکومتولي نه کوي. ستاسو مسوليت دې ته د امت رابلل دي چې د اسلامي دولت (راشده خلافت) په چوکاټ کې اسلام په هر اړخيز او بشپړ ډول پلی کړي. خلافت به خپل پوځ بسيج کړي چې د امت ټولې غصب شوې ځمکې بېرته ازادې کړي او مظلومان به له ظلمه خلاص کړي. هغه وخت به هېڅوک پر امت او د امت پر مقدساتو د بريد جرات ونه شي کړی.

**اې د امت سرتېرو او پوځونو او په ځانګړې توګه د مصر پوځه:** ستاسو دنده د يهودي دولت او دغو ګوډاګيو رژيمونو ساتنه نه ده چې پر تاسو حکومت کوي؛ بلکې ستاسو دنده له امت او د امت له مقدساتو ساتنه او د نبوت پر منهج راشده خلافت دولت کې د دين پلي کول دي. نو هغه څه وکړئ چې الله سبحانه وتعالی يې امر درته کړی؛ امت ته يې حاکميت او اقتدار بيا را وګرځوئ چې الله سبحانه و تعالی درنه راضي شي؛ د صديقينو په ډله کې مو وشمېري او له لاسه تللی عزت مو بېرته درکړي.

**﴿وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالَّذِينَ آوَواْ وَّنَصَرُواْ أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾**

**ژباړه:** «کومو خلکو چې ايمان راوړ او د الله تعالی په لاره کې يې هجرت او جهاد وکړ او هغه کسان چې د دوی مرسته او ملاتړ يې وکړ؛ همدوی رېښتيني مومنان دي. د هغوی لپاره بښنه او پرېمانه رزق دی» [انفال: ۷۴]

**د حزب التحرير- ولايه مصر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذوالحجې ۸مه**

**۲۰۲۳م کال، د جون ۲٦مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۴/۲۰**

**ژباړه: فریدون محتاط**